# هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: معاذ رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو ورته يې وويل: «اې معاذ بن جبل» هغه وويل: حاضر یم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوريدلو مې خوشحاله کړه! هغه وفرمايل: «اې معاذه» هغه وويل: حاضر یم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوريدلو مې خوشحاله کړه! درې ځلې، ويې فرمايل: " هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي»، هغه وويل: اې د الله جل جلاله رسوله آيا پدې سره خلکو ته خبر ورنکړم تر څو يو بل ته زيرى ورکړي؟ هغه وفرمايل: بيا به هغوی په همدې تکيه وکړي او عمل کول به پريږدي، بيا معاذ خلکو ته د مړيني پر مهال خبر ورکړ تر څو د علم په کتمان سره ګناهکار نشي.

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

معاذ بن جبل رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو غږ يې ورته وکړ چې اې معاذه؟ درې ځلې يې ورته په تکرار سره غږ وکړ؛ د هغه څه د ارزښت له امله چې ورته يې وييل. او معاذ رضي الله عنه به په هر ځل ځواب ورکاوه چې (لبيک يا رسول الله و سعديک) يعني اې د الله رسوله ستاسو بلنه مې په پرلپسې توګه منلې ده، او ستاسو په بلنه خوښ يم. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هېڅوک داسې نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې دروغ پکې نه وي چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که چېرته پدې حالت کې مړ شو، الله تعالی به يې په اور حرام کړي. نو معاذ رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې خلکو ته پدې خبره خبر ورکړي تر څو خوشحاله شي او زيرى پرې ورکړي؟. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وويريد چې هسې نه خلک په همدې خبرې تکيه وکړي نو عملونه به يې کم شي. نو معاذ هېچاته ونه وييل مګر د مرګ د رارسېدو پر مهال؛ تر څو د علم په پټولو سره ګناهکار نه شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10098